# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د تلې ۲۵مه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۱۷مه | دویم کال| ۲۷۰مه گڼه


## کتاب

۴ مخ

### Every is day extra




### د ایران د بهرنیو چارو وزارت د ادعا په غبرگون کې؛

# اجرایه ریاست وایي، ایران دې د افغان سولې په پروسه کې رښتینې همکاري وکړي



۳

## ټاکنې؛ د ولس او دولت مسوولیتونه

۲ مخ

## د ولسي جرگې د راتلونکو ټاکنو پر وړاندې شته خنډونه

۲ مخ

## ولس ته تر هر څه باید سوله لومړیتوب ولري

۳ مخ

## هند او چین په گډه افغان ډیپلوماټان روزي



هند او چین د لومړي ځل لپاره په گډه د افغان ډیپلوماټانو د روزنې یو پروگرام پیل کړی دی.

د هند ایکونومیک ټایمز ورځپاڼې د راپور پر اساس د هند او چین دا گډ نوښت د دوشنبې په ورځ په هند کې پیل شوی دی.

سرچینه زیاتوي د هند او چین له لوري د افغان ډیپلوماټانو د روزنې پروگرام دوولس ورځې دوام کوي. د یادې هندي ورځپاڼې د راپور له مخې، د هند لومړي وزیر او د چین ولسمشر د روان مېلادي کال په اپریل میاشت کې هوکړه کړې وه چې د افغان ډیپلوماټانو د روزنې گډ پروگرام به پلی کوي.

دا پروگرام په هند کې برابر شوی، چې لسو افغان ډیپلوماټانو پکې گډون کړی او ۱۲ ورځې به روزنه ترلاسه کوي.

## مشرانو جرگه راتلونکې اونۍ د کانونو او پټرولیم وزارت چارواکي استجوابوي

مشرانو جرگې پرېکړه کړې چې راتلونکې اونۍ به د کانونو او پټرولیم وزارت چارواکي د کانونو د استخراج په ترڅ کې د شته فساد په تړاو استجواب کړي.

د مشرانو جرگې رییس فضل هادي مسلمیار د یادې جرگې په پرونۍ غونډه کې پرېکړه وکړه چې راتلونکې اونۍ دې د کانونو وزارت چارواکي عمومي جلسې ته ورشي او په دې اړه دې ځواب ووایي.

نوموړي زیاته کړه: «په غیر قانوني ډول د کانونو استخراج موږ ته د منلو وړ نه دی او کومې اندېښنې چې سناتورانو مطرح کړې، په بېلابېلو ولایتونو کې کانونه په غیر قانوني ډول استخراجېږي، دا ټول مسایل به څېړو، راتلونکې اونۍ باید د کانونو وزارت چارواکي راشي او موږ ته په دې تړاو ځواب راکړي».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د افغانستان د روڼتیا د څار بنسټ او یو شمېر مدني ټولنو ویلي چې د افغان حکومت له خوا په غیر قانوني توگه د لویو کانونو د استخراج تړونونه په افغانستان کې د جگړې خصوصي کېدو ته لار هواروي.

دا اندېښنې او غبرگونونه وروسته له هغه پورته شول چې په بدخشان ولایت کې د سرو زور او د بلخاب د مسو د کانونو د اکتشافاتو تړونونه د اکتوبر په پنځمه د کانونو او پټرولیم د وزیرې او د دوو بهرنیو شرکتونو ترمنځ په متحده ایالاتو کې د افغانستان په سفارت کې لاسلیک شول.

د افغانستان د روڼتیا د څار بنسټ او د افغانستان د حقوق پوهانو ټولنې د بدخشان د سرو زرو او د بلخاب د مسو د کانونو تړونونه غیر قانوني بللي دي.

## د ټاکنو د روڼتیا لپاره مو ټول ممکنه تدابیر نیولي دي



۲ مخ

## کمیسیون شکایات انتخاباتی بار دیگر از احتمال حذف نام‌های شماری از نامزدان انتخابات خبر داد



کمیسیون رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی، از احتمال بیرون شدن نام‌های شماری از نامزدان از فهرست نهایی انتخابات ولسی جرگه خبر می‌دهد.

مسؤولان کمیسیون می‌گویند که سندهای پیوند داشتن شماری از نامزدان انتخابات با گروه‌های مسلح غیرقانونی یا در بارهٔ پایین بودن سن‌های شماری از نامزدان به این کمیسیون رسیده‌اند.

علی احمد مبلغ، کمیشنر کمیسیون رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی در این باره گفت: «سندهایی که به ما رسیده است، مثلاً سندهایی در رابطه با پیوند داشتن نامزد انتخابات با گروه‌های غیرمسؤول است، مثلا یک نامزد سن قانونی را برای نامزد شدن برای ولسی جرگه تکمیل نکرده است».

در همین حال، کمیسیون مستقل انتخابات از شفافیت در انتخابات سخن می‌زند و می‌گوید کسانی که در روز انتخابات در تلاش رأی دادن‌های تکراری برای نامزد مورد نظرشان هستند مجازات خواهند شد.

عبدالبدیع صیاد، ریس کمیسیون مستقل انتخابات بیان داشت: «درخواست ما از مردم همین است که دوبار رأی ندهند؛ برای این که سیستم شناسایی می کند و این کار یک جرم است و مجازات می‌شوند».

از سویی هم، مسؤولان کمیسیون مستقل انتخابات از رسیدن تمامی مواد انتخاباتی و نیز پایان روند آموزش کارمندان انتخاباتی برای کارگیری از دستگاه های بایومتریک خبر می‌دهند.




دریـځ

## ټاکنې؛ د ولس او دولت مسوولیتونه

د راتلونکې شـنبې پـه ورځ افغانان د ولسي جرګې لپاره خپـل استازي ټاکـي. دا د طالبانـو د واکمنـۍ لـه را پرځېـدو وروسـته دریـیم ځـل دی چـې د ولسـي جرګـې ټاکنـې تـرسره کېـږي. په ټاکنو کـې د ځنډ لـه کبلـه د ولسـي جرګـې اوسـنیو غـړو د پنځـو کلونـو پـر ځـای اتـه کالـه کار وکړ. د ملـي یـووالي حکومت څـو ځله ټاکنـې تـر دې پلمـې لانـدې وځنډولـې چـې ټاکنيـز سیسـټم اصلاح کوي، خـو نه ټاکنيـز نظام اصلاح شـو او نـه هـم هغـه ژمنـې عملـي شـوې چـې پـه دې تـړاو یـې کـړې وې. یـوازې پـه ۹۰ یمـه دقیقـه کـې د سیاسي ګوندونـو او مـدني ټولنو له سـختو فشـارونو وروسـته کمېسـیون د ټاکنـو پـه ورځ د رایـه ورکوونکـو د پېژندلـو لپـاره د بایومټریـک سیسـټم لـه کارولـو سره هوکـړه وکـړه. پـه کومـه بڼـه چـې د بایومټریـک سیسـټم د کارولـو پربکـړه شـوې، هـم د ټاکنـو بشـپړه روڼتیـا نـه شي تضمینولـی. کـه د هغـوی د تخنیکـي سـتونزو پـه تـړاو راپورونه رښـتیا وي، بیـا نـو حتـی پـه یـوه محل کـې هـم د یـوه کـس لـه لـوري د څو رایـو د کارولو مخه نـه شي نیولـی.

ټاکنـې لـه ټولـو نیمګړتیـاوو سره د افغانانـو لپـاره د خپلـو اسـتازو د غوراوي ښـه فرصت دی چـې بایـد ګټـه ورڅخـه پورتـه کـړي. هـر څومـره چـې ډېـر خلک پـه ټاکنـو کـې ګـډون کـوي، پـه هماغـه انـدازه د دې ملي بهیـر مشروعیت زیاتېږي. د ټاکنـو د روڼتیا پـه تـړاو د دولـت او کمېسـیون لـه اړخـه د سیاسي ارادې نـه شـتون ته پـه کتو، خلک بایـد خپـل مسـوولیت یـوازې د رایـې پـه کارولـو سره خـلاص شـوی و نـه بولـي. پـه هغـه صورت کـې چې ژوند ته یـې ګواښ نه وي، ولس بایـد د رایـې ورکوونکـو تر څنګ د ټاکنـو د بهیـر څارونکـی هـم واوسي. دوی چـې پـه دومـره ترینګلـو امنیتـي شرایطـو کـې د یوه سـتر ګواښ په منلـو سره د ټاکنو مراکـزو تـه ځـي او د خپلـې ارادې تمثیـل کـوي، دا هڅـه هم باید وکړي چـې پر اراده یـې معامله ونـه شي.

دولـت چـې د ټاکنـو لـه روڼتیـا سره لـه مرسـتې یـې اوس د خلکـو تمـه شـکېدلې، لـږ تر لـږه بایـد د خلکـو د خوندیتـوب لپاره جـدي هڅـه وکـړي. ټاکنې یو بشـپړ ولسي بهیـر دی او پـه کـې ښـکېل مطلق اکثریت خلـک بـې وسـلې ملکـي وګـړي دي چـې لـه ځانـه د دفـاع وړتیـا هـم نـه لـري. لـه همـدې کبلـه هغوی پـه خورا اسانـۍ هدف ګرځېدلـی شي. د وسـله والـو طالبانـو تـر ګـواښ وروسـته پـه دې برخه کـې د دولت، پـه ځانګـړي ډول امنیتـي ادارو مسـوولیت نـور هـم ډېرېـږي. طالبان ښـایي لـه خپلې ژمنـې سره سـم د دغـه ملي بهیر د تخریب وروسـتۍ هڅـه وکـړي. د دغـه ولسي بهیر پـر مهـال، په ځانګـړي ډول د ټاکنو په ورځ، د ملـي امنیتـي ځواکونو کوچنـۍ بې غوري او تېروتنـې هـم د سـترې فاجعـې لامل کېدای شي. لـه همـدې کبلـه باید افغان امنیتـي ځواکونـه پـه دې ورځ له اسـتثنایي احتیـاط او مسـلیکتوب نـه کار واخلـي.

# د ولسي جرګې د راتلونکو ټاکنو پر وړاندې شته خنډونه

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د ولسـي جرګـې ټاکنـې چـې د قانـون لـه مخـې بایـد لـه نـن څخـه پـوره درې کالـه وړانـدې تـرسره شـوې وای؛ د بېلابېلـو لاملونـو لـه کبلـه لـه درې کالـه ځنډ وروسـته، ټاکل شـوې چـې راتلونکـې اونـۍ د روان لمریـز کال د تلـې پـه ۲۸مـه ترسره شي.

کـه څـه هـم د ولسـي جرګـې د اوسـنیو ټاکنـو د تـرسره کېـدو نېټـې تـه د ګوتو پـه شـمار ورځـې پاتـې دي، خـو د هېـواد خـراب امنیتـي وضعیـت، پـه هېـواد کـې سـیاسي اختلافونـه او د ټاکنـو پـر بهیـر د فسـاد او تقلـب د تورونـو د موجودیـت لـه کبلـه د خلکـو او سیاسي احزابـو بـې بـاوري، ټـول هغـه څـه دي چـې د ولسـي جرګـې د اوسـنیو ټاکنـو بهیر یـې تر خپل سـیوري لانـدې را وسـتلی دی.

تـازه د ګلبدیـن حکمتیـار پـه مشرۍ د افغانسـتان اسـلامي حـزب ویلـي چـې د ولـسي جرګـې را روانـې ټاکنـې د افغـان دولـت او ټاکنـو کمېسـیون لـه لـوري داسـې مهنـدسي شـوې چـې نـه ګوندونه پکـې حضـور لـري او نه هـم ګوندونـو ته د ټاکنـو د څـار حـق ورکـړل شـوی دی؛ خـو د ټاکنـو خپلـواک کمېسـیون وایـي چـې پـه افغانسـتان کـې د ۷۲ رسـمي سـیاسي ګوندونـو لـه ډلـې تـر دې دمـه یـوازې ۱۲ یـې د ټاکنـو پـر پروسـې د څـار باورلیکونه اخیسـتي دي او د ګلبدیـن حکمتیـار پـه مشرۍ د افغانستان اسلامي حـزب ځکه د ټاکنـو د څـار حـق نـه لـري چـې دغـه حـزب په عدلیې وزارت کې ثبت او رسـمي نـه دی.

د ولسـي جرګـې د را روانو ټاکنـو میکانېزم او پکـې شـته سـتونزې، د ټاکنـو لـه کمېسـیون سره د سـیاسي ګوندونـو اختلافـات او دا چـې د ټاکنـو لـه تـرسره کېـدو وروسـته بـه د دغـو ټاکنـو پایلـې د دولت سـیاسي مخالفینو تـه څومره د منلو وړ وي؟ هغـه موضوعـات دي چـې دلته به پـرې بحـث وشـي.

**د ټاکنو میکانېزم**

د ټاکنـو خپلـواک کمېسـیون د مهالوېـش پـر بنسـټ د ولسـي جرګـې د را روانـو ټاکنـو لپـاره د ولایتونـو پـه مرکزونـو کـې د روان لمریـز کال د حمـل پـه ۲۵مـه د رایـې ورکوونکـو نوملیکنـه پیـل شـوه. پـه نوملیکنـه کـې د رایـې ورکوونکـي قانـوني عمـر ۱۸ کالـه او د تابعیت د اصلي تذکرې درلـودل، یوازینـی بـاوري سـند وګڼـل شـو. دغـه راز هغـه کسـان چـې د تابعیت تذکـرې یـې تـر اوسـه نـه وې اخیسـتې، د افغـان حکومـت د نفوسـو د احوالـو د ثبت اداري پـه مرسـته د تذکـرو ترلاسـه کولـو زمینـه ورتـه برابـره شـوه.

د رایـې ورکونـې په شرایطو د برابرو کسـانو لپـاره د نوملیکنـې پـر مهـال د نومـوړي شـخص پـه تذکـره کـې د شـته معلوماتو پر بنسـټ د ده نوملیکنـه کېـده او د همـدې نوملیکنـې تصدیـق بیـا د تذکرې پر شـا د سکاشـټېپ پـه وسـیله نښـلول کېـده. پـه دغـه تصدیـق پاڼـه کـې پـه شـخص پورې اړونـده شـمېره، ټاکنیـزه حـوزه او د رایـې ورکونـې د مرکـز ځانګـړی کـوډ نمبر لیکل کېـده. دغـه راز یـو کس چـې پـه کـوم مرکز کـې نوملیکنـه کـړې د ټاکنو پـه ورځ یوازې پـه هماغـه مرکـز کـې خپلـه رایـه کارولـی شي.

**په ټاکنو کې د ګډون لپاره دغه میکانېزم لاندې ستونزې لرلې:**

**لومړی-** د رایـې ورکونـې لپـاره د تابعیـت کاغـذي تذکـره یوازینـی باوري سـند ګڼل، د دې لامـل شـول چـې درغلیو تـه پـه لوی لاس زمینـه برابره شي. یو شـمېر نوماندانو پـه زرګونـه جعلـي کاغـذي تذکـرې جوړې کـړې وې چـې پـه اړه یـې د سـیاسي ګوندونـو ګـډ ائتـلاف رسـنیو تـه نمونـې او شـواهد هـم وړانـدې کـړل. پـه دغـو تذکرو کـې داسـې مـوارد هـم وو چـې د یـوه شـخص پـه نـوم څـو تذکـرې هـم وېشـل شـوې وې.

**دویم-** پـر تذکـرو د کمېسـیون له لـوري د ځانګـړو سـټېکرونو جعلـي جوړېـدل او یـا لـه کمېسـیون څخه پـه پټـه د سـټېکرونو د کتابونـو ترلاسـه کـول، پـه دغه پروسـه کـې یـوه بلـه لویـه سـتونزه وه. د سـتراتېژیکو او سـیمه ییـزو څېړنـو مرکـز داسـې معلومات ترلاسـه کړي چې ښـیي، ځینـې نوماندانو د نفوسـو د احوالـو د ثبـت اداري پـه همـکارۍ د اشـخاصو پـه نـه موجودیـت کـې پـه مختلفـو نومونـو سـلګونه بـې تصویـره تذکـرې جـوړې کـړې دي. دغـه راز یـې همـدا تذکـرې د ټاکنو کمېسـیون د کارکوونکـو پـه همـکارۍ پـه قانـوني بڼه سـټېکر کـړې هـم دي او اوسـمهال چـې پروسـه بایومېټریـک شـوه، پـه دې لټه کې دي چـې د همـدې تذکـرو د کارونـې پـه موخـه د پیسـو پـه مقابـل کـې اشـخاص پیـدا کـړي، څو یـوازې د هماغه شـخص د تصویـر پـه لګولـو سره لـه دغـې تذکـرې د رایـې ورکونـې پـه ورځ کار واخلـي.

دریـیم- تـازه د ټاکنـو کمېسـیون اعـلان کـړی چـې د ټاکنـو د بهیـر د څـار لپـاره پنځـه زره کسـان ګـماري، دغـه کسـان بـه د ټاکنـو بهیـر څـاري او د ټاکنـو پـه ورځـو کـې بـه ټاکنیـز شـکایتونه راټولـوي؛ خو پـه دې برخـه کـې اندېښـنه دا ده چـې پـه کوم اسـاس پـر داسـې لنډمهالـه کارکوونکـو بانـدې د دومـره سـتر مسـوولیت بـاور کېـدای شي او پـه دې برخـه کـې څـه ضمانـت شـته چې دغه کسـان بـه خپله د مشـخصو کسـانو په ګټه درغلي ونه کړي؟

**د سیاسي ګوندونو مخالفتونه**

د ولسـواکو ټولنو په حکومتونو کې د ټاکنو لـه بهیـر څخـه د روڼتیا په موخـه، د مدني ټولنـو او سیاسي ګوندونو څارنه یو معمول اصـل ګڼـل کېږي؛ خـو په افغانسـتان کې د ولـسي جرګـې د را روانـو ټاکنـو روڼتیا او د دې پروسـې څارنـه، د مـدني ټولنـو او سـیاسي جریانونـو تر ټولو سـتره اندېښـنه او لـه حکومـت سره د مخالفتونـو یـوه لاره ده.

پـه افغانسـتان کـې سیاسي ګوندونـو څه مـوده وړانـدې د ملـي یـووالي حکومـت پر خـلاف پـه ټاکنو کې د یوه بشـپړ میکانېزم او د وسـایلو نـه موجودیت لـه کبله د ټاکنو لـه کمېسـیون سره پرېکـون اعـلان کـړ. د ټاکنیـز نظـام بدلـون، پـه ټاکنـو کـې د بایومېټریـک سیسـټم کارونـه او د ټاکنو له پروسـې څخـه هـر اړخیـزه څارنـه، هغه څه وو چـې د دولـت او احزابـو ترمنـځ یې واټن رامنځتـه کـړی و.

کـه څـه هـم پـه وروسـتیو کـې افغـان حکومـت د سـیاسي احزابو دغه غوښـتنې ومنلـې او د ټاکنـو لپـاره یـې لـه نـوې ټکنالـوژۍ څخـه د کار اخیسـتلو خبـر ورکـړ؛ خو لاهم له یـوې خوا د بایومېټریک د دسـتګاوو د کیفیت او روڼتیـا په پام کې نیولـو سره پـر دغـه ټکنالـوژۍ شـکونه او لـه بلـې خـوا د هېـواد روان خـراب امنیتي وضعیـت او د طالبانـو لـه لـوري د ټاکنو په اړه شـته ګواښـونه، هغـه څـه دي چـې را روانـې ټاکنـې ننګـوي.

پـه بـل اړخ کـې د ملـي یـووالي حکومـت پـه راتـګ سره ولسـمشر غنـي پـه تېـرو څلـورو کلونـو کـې تر ډېـره هڅه وکـړه چې پـه هېـواد کـې د واک او ځـواک کوچنـۍ جزیـرې لـه منځه یـوسي، یا هـم د همدې جزیـرو پـه راس کـې شـته افراد پـه یـوه ډول لـه صحنـې لـرې او کمـزوري کـړي. د سـیاسي ګوندونـو مشران هـم تـر ډېـره پـه همـدې ډلـه کـې راځـي چـې غنـي هڅـه کـوي دوی له قدرت څخه ورو ورو پر شـا او کمـزوري کـړي؛ خو په مقابل کې سـیاسي ګوندونـو تـل هڅـه کـړې چـې ولسـمشر غنـي تـر فشـار لانـدې راولـي او خپلـې غوښـتنې پـرې ومنـي. دغـه راز ځینـې داسـې تحلیلونه هم شـته چې افغانسـتان کـې د حکومـت خـلاف ځینـې سـیاسي جریانونـه او ګوندونـه پـه لـوی لاس هڅـه کـوي، څـو د ولسـي جرګـې ټاکنـې ترسره نـه شي، ځکـه پـه دې توګـه بـه د حکومت مشروعیـت یـو ځل بیـا تر پوښـتنې لاندې راشي او دوی بـه د موقت حکومـت د رامنځتـه کولـو غـږ را پورتـه کـړي.

**ایا ټاکنې به په ټاکلې نېټه ترسره شي؟**

افغـان حکومـت او د ټاکنـو خپلـواک کمېسـیون تـل پـر دې ټینـګار کـړی، چې د ولسـي جرګـې ټاکنـې بـه پرتـه لـه غزني ولایـت څخـه د هېـواد په نـورو ۳۳ ولایتونو کـې پـه خپلـه ټاکلـې نېټـه ضرور تـرسره کېـږي؛ خـو د هېـواد امنیتـي وضعیت، د طالبانـو لـه لـوري پـه خپـره شـوې اعلامیه کـې د ټاکنـو د پروسـې ګواښـل، د ټاکنـو پـر روڼتیـا د ځینـو سـیاسي ګوندونـو بـې بـاوري، تـر دې دمـه پـه هېواد کـې د رایې ورکونـې ټولـو مرکزونـو تـه د بایومېټریـک دسـتګاوو نـه رسـېدل او د همـدې دسـتګاوو د کارونې په اړه د خلکو او ټاکنو کمېسـیون د کارکوونکـو نـه پوهـاوی پـه ځانګـړې توګـه پـه لـرې پرتـو سـیمو کـې، ټـول هغـه مـوارد دي چـې پـه ټاکلـې نېټه او شـفافه توګـه د ولسـي جرګـې د ټاکنو په تـرسره کېـدو شـکونه را پیـدا کـوي.

پورتنـي او ځینـې نـور لاملونـه دي چـې د ټاکنـو کمېسـیون تـه نـږدې بـاوري سرچینـې د ټاکنـو د ځنډېـدو د احتـمال خبـر ورکـوي. د دغـو سرچینـو له قولـه، پـه را روانـو ټاکنـو کـې ښـکېل بهـرني لـوري لـه کمېسـیون سره پـه خبـرو بوخـت دي، څـو ټاکنـې د لـږ تر لـږه لس تر شـل ورځو پـوري وځنډېـږي.

لـه ټاکلي نېټې د را روانو ټاکنو پر ځنډېدو سربېـره، پـه افغانسـتان کـې لـه یـوې خوا افغـان دولـت د جګـړې او ناسـم امنیتـي وضعیـت لـه کبله پـه ټوله خـاوره حاکمیت نـه لـري او لـه بلـې خوا پـه ټاکنیزه پروسـه کـې د فسـاد او تقلـب د موجودیـت لـه کبلـه د ټاکنـو پر روڼتیا د خلکـو ترمنځ بې بـاوري خپـل اوج ته رسـېدلې ده او دا هغه مـوارد دي چـې د ولسـي جرګـې د ټاکنـو مشروعیـت تـر پوښـتنې لانـدې راولـي.

پـه داسـې یـوه وضعیـت کـې لـه یـادو شـوو ټولـو سـتونزو سره ـ سره، کـه افغـان حکومـت ټاکنـې ترسره هـم کـړي، تـر ډېـره بـه دغـه ټاکنـې یـوازې تـر لویـو ښـارونو رامحـدودې وي او کـوم کسـان چـې ولسي جرګـې تـه بریـالي اعلانېږي، د ټـول افغانسـتان استازیتوب ادعـا بـه نـه شي کولـی؛ ځکـه د هېـواد پـه روانـو حالاتـو کـې د سرتـاسري ټاکنـو تـرسره کېـدل ناشـوني دي.

بـل پلـو د دې احتـمال هـم شـته چـې د غـزني پـه څېر پـه ځینـو نـورو ولایتونو کې یـوازې د یوه قوم کسـان ولسـي جرګې ته راشي. پـه داسـې یوه حالت کې ښـایي د ټاکنـو پایلـې ټولـو تـه د منلو نـه وي او پـه هېـواد کـې یـو ځـل بیـا د ۲۰۱۴ ز کال د ولسـمشریزو ټاکنـو پـه شـان ناندرۍ او جنجالونـه رامنځتـه شي.

ملګري ملتونه:

## په میلیونونو افغانان د قحطۍ له ګواښ سره مخامخ دي

سختې وچکالۍ، فقر او جګړو په میلیونونو افغانان د خوړو له نشتوالي سره مخامخ کړي او ملګرو ملتونو د وضعیت د لا خرابېدو خبرداری ورکړی دی.

ملګرو ملتونو د دوشنبې په ورځ خبرداری ورکړ چې لږ تر لږه درې میلیونه افغانان عاجلو غذایي توکو ته اړتیا لري او که مرسته و نه شي، نو له قحطۍ سره به مخامخ شي.

ملګري ملتونه دغه خبرداری په داسې حال کې ورکوي چې افغانستان له بې ساري قحطۍ او وچکالۍ سره مخامخ دی.

د افغانستان په شمالي او لوېدیځو حاصلخېزو ولایتونو کې وچکالي د دې سبب شوې چې په سلګونو زره کسان د خپلو کورونو او سیمو پرېښودلو ته اړ شي.



په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو همغږي کوونکي توبي لانزر ویلي چې ملګري ملتونه هڅه کوي، څو د نړیوالو مرستو په جلبولو سره لږ تر لږه له ۲،۵ میلیونه افغانانو سره چې غذایي توکو ته سخته اړتیا لري، د روان کال د ډسمبر تر نیمایي پورې مرسته وکړي.

لانزر د فرانسې خبري اژانس ته ویلي: «هغه خلک د ورځې یوازې په یو وخت خوړو چې هغه هم اکثره وچه ډوډۍ او چای دی، ژوند کوي».

د ملګرو ملتونو دغه چارواکي ویلي چې درې میلیونه کسان د غذایي مصونیت د نشتوالي له درکه په څلورمه درجه کې دي چې دا له قحطۍ نه یوازې یو درجه وړاندې حالت دی او جدي اقدام ته اړتیا لري.

لانزر ویلي چې تېره میاشت مرسته رسوونکو ډلو شپږ زرو اړمنو کورنیو ته غنم او غوړي وېشلي او ټاکل شوې چې د روانې میاشتې تر پایه به له شپږ زرو نورو کورنیو سره هم ورته مرستې وشي.

د لانزر په وینا، په افغانستان کې اته میلیونه نور خلک د غذایي بحران په دریيم پړاو کې ژوند کوي او د ماشومانو ترمنځ د سوء تغذي کچه خورا لوړه ده.

د اورښت کموالی او په تېر ژمي کې د واورو نه اورېدلو په وجه په نیم افغانستان کې وچکالي راغلې او د وچکالۍ په وجه لږ تر لږه ۲۵۰ زره کسان له خپلو سیمو بې ځایه شوي دي.

# ولس ته تر هر څه باید سوله لومړیتوب ولري

خالد سادات

د افغانستان لپاره د سولې په چارو کې د امریکا د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد او د طالبانو د سیاسي دفتر د استازو لیدنه په افغانستان کې د روان کړکېچ د حل ابتدایي مرحله ده. طالبان د امریکایي ځواکونو شتون د سولې پر وړاندې اصلي خنډ بیانوي چې له امریکایي ډیپلوماټ خلیلزاد سره تر یو بریده هوکړې ته هم رسېدلي چې څرنگه امریکایي ځواکونه په تدریجي ډول له افغانستانه ووځي.

موږ افغان ولس ته سوله تر هر څه باید لومړیتوب ولري او یو بل ته د پیغور په توگه د سولې هڅې ټکنۍ کول خپله له سولې سره ظلم دی.

د سولې اړوند روان پرمختگونه باید د افغان دولت، امریکا او طالبانو له لوري په چټکۍ سره تعقیب شي. روانه جگړه کې تر دوه لکو زیات افغانان شهیدان شوي او یا هم زخمیان شوي دي.

دلته جگړه نه طالبانو گټلې او نه امریکایانو گټلې ده. د جگړې تاوان او د ماتې قیمت افغان ولس پرې کړی. موږ باید دا ومنو چې امریکا، طالبانو او افغان دولت په خپلو سیاستونو کې د سولې راوستو په سیاست کې خطاوې او اشتباه گانې کړې دي. د سولې او کړکېچ په مسایلو کې تر ټولو مهمه خبره یو بل ته د احترام او اعتماد فضاء موندل دي. که امریکایي ځواکونه خپل حضور ته او په ټوله کې د افغان جگړې د تمویل لپاره له امریکایي زاویې گوري، له بده مرغه افغان سوله بیا له خنډ سره مخ کېږي. که طالبان د خپلو عملیاتو په شدت او د جگړې پر زیاتېدو فکر کوي، بیا هم د سولې بحث ټکنی کېږي. دواړه اړخونه باید د سولې په پرمختگ کې د جگړې رنگ کمزوری کړي.

د طالبانو له لوري د روانو ټاکنو سبوتاژ، د غزني سقوط ته بیا زمینه مساعدول، د شمال جگړې پر شدت تمرکز او په ټوله کې د طالبانو له لوري د جگړې نظامي پلټ فورم موندل خپله د طالبانو په اړه د سولې اړوند شکونه زیاتولی شي. په مقابل کې د امریکا په مشرۍ د نظامي ځواکونو د شتون نوعیت او د دوی له لوري د خپل سریو عملیاتو ترسره کول، د امریکا د ستراتېژۍ مبهم شکل او په دې شکل د افغان جگړې لپاره د سیمې کوونټر بیلانس ساتل چې په سیمه ییزه کچه د افغانستان جگړې شدت تضمینوي یو ښه تعامل نه دی.

د سولې په اړوند بل بحث د نظام له بطن او له نظامه بیرون د خنډ ایجادوونکو کړیو شتون یوه طبیعي خبره ده. موږ افغانانو ته تر ټولو مهمه دا ده چې مخکې لاړ شو او د خپل فکر په اډانه کې دایمي سوله تعریف کړو. که د اشخاصو په نظریاتو او د اوسنۍ عصري ټکنالوژۍ نه په گټه اخیستنې په دې پسې وگرځو چې څوک دا لیکي او څوک دا، فکر کوم د سولې په اړه به مو روان پرمختگونه په لوی لاس له خنډ سره مخ کړي وي.

له نېکه مرغه اوس د سولې په اړه یوه ملي اجماع چې د سولې په اړه فکري اړخ لري، رامنځته شوې. په دې معنا چې اوس له روانې جگړې هر یو قوم او ټبر ځوربېږي او هېڅوک خپل سر له سولې پرته خوندي نه گوري. د گوتو په شمېر خلکو نظریات حاشیې ته غورځول په کار دي او د سولې په راتگ به له هر چا د انتقالي عدالت په چوکاټ کې خپل حقوق واخلو.

## د ایران د بهرنیو چارو وزارت د ادعا په غبرگون کې؛

# اجرایه ریاست وایي، ایران دې د افغان سولې په پروسه کې رښتینې همکاري وکړي



اجرایه ریاست د ایران د بهرنیو چارو وزارت د وروستۍ ادعا په غبرگون کې چې ویلي یې دي، امریکا د افغانستان د سولې په مسئله کې جدي نه ده، د امریکا او ایران په گډون د نړۍ له ټولو هېوادونو غوښتي چې له کابل سره د سولې په پروسه کې مرسته وکړي.

د اجرایه ریاست مرستیال ویاند امید میثم وایي چې جگړه د حللاره نه ده او افغان حکومت هڅه کوي چې روانې جگړې ته سیاسي حللاره وگوري.

نوموړي زیاته کړې: «سوله حکومت ته لومړیتوب لري، موږ د امریکا او ایران په گډون د نړۍ له ټولو هېوادونو غواړو چې د سولې د خبرو اترو په برخه کې له موږ سره مرسته وکړي، ځکه چې موږ د نړۍ په نمایندگۍ د جگړې په لومړۍ کرښه کې یو او دوی ټول باید په رښتیني ډول هڅه وکړي چې په افغانستان کې تلپاتې سوله راشي.»

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند د دوشنبې په ورځ په یوه خبري کنفرانس کې ویل چې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا تازه هلې ځلې په ډاگه کوي چې دغه هېواد په افغانستان او سیمه کې نور اهداف تعقیبوي او د سولې په مسئله کې جدي نه دی.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت دا څرگندونې داسې مهال کړې چې په وروستیو کې امریکا په افغانستان کې د سولې لپاره هڅې ډېرې کړې دي. د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد په وروستیو کې کابل، اسلام اباد، ریاض او قطر ته جلا جلا سفرونه کړي.

د راپورونو په اساس د وسله والو طالبانو او افغان حکومت تر منځ د سولې د خبرو اترو پیل د خلیلزاد او پاکستاني او قطري چارواکو تر منځ د خبرو اصلي ټکي وو.

وسله والو طالبانو هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره په لومړي ځل منلې چې په قطر کې د دې وسله والې ډلې یو شمېر استازو له خلیلزاد سره کتلي دي.

طالبانو ویلي چې په دې ناسته کې دواړو لورو هوکړه کړې چې د افغانستان د سولې په اړه به خبرو اترو او ناستو ته دوام ورکوي.

افغان حکومت هم هیله ښودلې چې ډېر ژر به له وسله والو طالبانو سره د سولې د خبرو اترو دروازه خلاصه شي.

په ورته وخت کې د افغانستان د سولې عالي شورا وایي د امریکا په گډون د سولې له پروسې د یو شمېر ملاتړو هېوادونو رول په سوله کې رغوونکی دی او تر دې دمه یې په دې برخه کې عملي گامونه هم اخیستي دي.

د دې شورا ویاند احسان طاهري ازادي راډیو ته ویلي: «د سیمې او نړۍ هېوادونو، په ځانگړي ډول د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د سولې د پروسې په اړه ښه گامونه اخیستي دي او موږ هیله لرو چې دا اقدامات نور هم پیاوړي شي، همدا شان په دې برخه کې د نړۍ د هېوادونو په ځانگړي ډول د امریکا مرسته ډېره اړینه ده.»

د نړیوالو اړیکو کارپوه انتظار خادم وایي، امریکا باید پر پاکستان له خپل نفوذه په استفادې سره طالبان د سولې د خبرو مېز ته کېنوي.

خادم په ورته وخت کې پر دې هم ټینگار کوي چې د سولې د خبرو مالکیت باید له افغانانو سره وي او که امریکا په دې برخه کې ډېره ونډه اخلي، نو د افغان حکومت حاکمیت ته زیان رسېږي چې په وینا یې بدې پایلې به ولري.

# پامپیو د خاشقجي د قضیې په تړاو له سعودي چارواکو سره خبرې کړې دي



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په ریاض کې د سعودي عربستان له پاچا او د دغه هېواد د بهرنیو چارو له وزیر سره د تري تم شوي خبریال جمال خاشقجي د قضیې په اړه چې گومان کېږي دوې اونۍ مخکې په استانبول کې د سعودي په کونسلگرۍ کې وژل شوی، خبرې وکړې.

خاشقجي چې د سعودي د ولیعهد محمد بن سلمان له سختو منتقدینو و، دوې اونۍ مخکې په استانبول کې د سعودي عربستان کونسلگرۍ ته تللی و چې له پخوانۍ مېرمنې د طلاق سندونه لاسلیک او له نوې ترکۍ ملگرې سره د واده کولو لپاره اسناد ترلاسه کړي.

ترکي چارواکي وایي، غږیز او ویډیویي شواهد په لاس کې لري چې خاشقجي د کونسلگرۍ د ننه وژل شوی، خو ریاض بیا دا ادعا ردوي.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ وړمه ورځ وویل چې د سعودي پاچا سلمان ورته ډاډ ور کړی چې د خاشقجي د ورکېدو د پېښې په اړه هېڅ معلومات نه لري.

ټرمپ ویلي، داسې گومان کوي چې خاشقجي به د یاغي قاتلانو له خوا وژل شوی وي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر چې د دې قضیې د سپیناوي لټه کوي، د سعودي له پاچا سره له کتنې وروسته یې د دغه هېواد د بهرنیو چارو له وزیر عادل الجبیر سره هم په دې اړه خبرې کړې.

د سعودي له پاچا او د دغه هېواد د بهرنیو چارو له وزیر سره د مایک پامپیو د خبرو جزیات تر اوسه نه دي په ډاگه شوي، خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په یوه بیان کې وویل چې پامپیو د سعودي عربستان له پاچا څخه د هغې ژمنې له امله مننه کړې چې د خاشقجي د تري تم کېدو په اړه د رښتینې او شفافې څېړنې په اړه یې کړې ده.

بل پلو د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي چې پولیسو وړمه ورځ د سعودي د کونسلگرۍ دننه د زهرجنو موادو لټون وکړ.

ترکي رسنیو د اردوغان په حواله ویلي چې هغه د خپل گوند پارلماني غړو ته په وینا کې وویل چې د ودانۍ دننه د زهرجن گازو په شمول د ډېرو شیانو په اړه پلټنه وشوه او دغه مواد د وسایلو د بیا رنگولو په ذریعه له منځه وړل شوي دي.

## د کتـــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړينې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### اوومه ځانګړنه
**بصیرت:**



**(۱) اصلي موضوعاتو ته لاسرسی**
د لویـو سـازمانونو رهـبران بایـد هـره ورځ لـه بېلابېلـو پېچلـو مسـایلو سره مخ شي. دوی دومـره ډېـر معلومـات نـشي راټولولـی چـې پـه ټولـو مسـایلو پوه شي، نـو دوی بایـد چـې پـه خپـل بصیـرت کار وکـړي. د میـګل پوهنتون استـاد هـنري مینتزبرګ وایـي: (د سـازمانونو اغېـزه پـه منطـق نومې تنـګ نظرۍ کـې نه ځایېـږي.) بصیرت لـه رهـبر سره دا مرسـته کـوي چـې د نسـبي تصویـر پـه لیـدو، اصلـي مطلـب تـه ورسېږي.

**(۲) د ستونزو د حل وړتیا پراخول**
کـه د سـتونزې ریښـه مـو پیـدا کړه، سـتونزه هـم حل کولای شـئ. څومـره چې رهبر د خپلـو وړتیـاوو سـاحې تـه نـږدې وي، هومـره بـه یـې د سـتونزو د ریښـو موندلـو ته نظر تېـز وي. کـه غـواړئ لـه خپلـې بالقـوه انـرژۍ څخـه کار واخلـئ، د خپـل قوت په ساحه کې کار وکړئ.

**(۳) د لا ډېرې اغېزې لپاره خپلې ټاکنې پراخې کړئ**
د مدیریـت سـلاکار (رابـرت هېلـر) وایـي: (د خپل درک او لید په احسـاس سـترګې مـه پټـوئ، خـو پـه دې هـم بـاور مـه کـوئ چـې دا بـه بـس وي.) بصیـرت یـوازې د سـترګو لیـدل نـه دي او پـه عقـل او منطـق هـم نـه دی ولاړ، بصیـرت وایـي چـې لـه دې دواړه بایـد کار واخیسـتل شي.

**(٤) فرصتونه زیاتول**
څـوک چـې بصیـرت نـه لري، هغه ځای تـه لږ رسـېږي، د کوم ځای وړتیـا چې لري. کـه څـه هـم سـتر رهـبران بختـور ښـکاري، خـو زه پـه دې باور یـم چـې سـتر رهبران خپـل بخـت پخپلـه لیکـي. دوی لـه خپلـو تجربـو ګټـه اخلـي او پـه خپـل درک باور کـوي.

**پر دې فکر وکړئ**
آیـا تاسـې بصیـرت لرونکـی رهـبر یاسـت؟ لـه پېچلـو موضوعاتـو سره چې مخ شـئ، ریښـه یـې موندلی شـئ؟ آیـا د موضـوع جزئیاتو ته په نه رسـېدو، یې ریښـه موندلی شـئ؟ آیـا پـه خپـل درک بـاور لـرئ او د عقـل، شـعور او منطـق هومـره ارزښـت ورکـوئ؟ کـه ځـواب مـو منفـي وي پـه دې برخـه کـې بایـد پر ځـان کار وکـړئ. غیر سـنتي افـکارو تـه بایـد ارزښـت ورکـړئ. د بدلـون، ابهـام او خطر مخې ته لاړ شـئ. د تجربـو پـه مرسـته خپلـه سـاحه پراخـه کـړئ، نظر پـراخ کـړئ، ستاسـې درک هله قـوي کېـږي چـې کار تـرې واخلـئ.

**د رسېدو لار**

**د خپل بصیرت د پراخولو لپاره لاندې کارونه وکړئ:**


- پخوانـۍ بریـاوې و ارزوئ. کـوم موضوعـات چـې مـو پخـوا پـه بریالیتوب سره حـل کـړي، هغـه تـه یـو ځـل بیـا وګـورئ. د سـتونزو یـا موضوعاتو ریښـه چېرې وه؟ ولـې پکـې بریـالي شـوئ؟ کـه دا موضـوع مـو پـه څـو ټکـو کـې توضېح کـړه، په راتلونکـې کـې هـم کار ورتـه کـولای شـئ.
- زده کـړئ چـې نـور څنګـه فکر کـوي. د کـوم لوی رهبر سـتاینه او درناوی کـوئ؟ داسـې خلـک وټاکـئ چـې مسـلک او وړتیـا یـې تاسـو تـه ورتـه وي. د هغوی ژوندلیکونـه ولولـئ او زده کـړئ چـې دا سـتر رهبران څنګه فکر کـوي، دا مو بصیرت زیاتولـی شي.
- خپـل زړه تـه غـوږ شـئ. هغه وخـت رایاد کړئ چې ستاسـې لـه باطن نه درتـه یـو غـږ یـا لارښـوونه شـوې وي او هغـه رښـتیا هـم وي. ښـایي هغه وخـت به مو دا خـبره اوربدلـې وي یـا بـه مـو نـه وي اوربدلـې. د دغـو تجربـو مشـترک ټکـي کوم دي؟ وګـورئ چـې څنګـه او د کومـې مخـبلګـې پـه مرسـته لـه خپـل درک نـه ډېـره ګټـه اخیسـتلی شـئ.

**له تجربې زده کړه**
تـر ډېـرې مـودې سـویس د نـړۍ تـر ټولـو ښـه ساعتونه تولیـدول. پـه ۱۹۴۰مه ز لسیزه کـې د سـاعتونو ۸۰ سـلنه بـازار د دوی و. پـه ۱۹۶۰ز کال کې د سـاعت یوه مخترع، د سـویس د سـاعت جوړولـو رهـبرۍ ته یـوه نوې طرحه پېشـنهاد کـړه، خو هغـوی ورسره د سـاعت دا نـوې طرحـه ونـه منلـه، ده چـې به هر شرکت ته پېشـنهاد کاوه، منفـي ځـواب یې ترلاسـه کاوه.
دغـه سـړي د خپلـې اختراع په ارزښـت پوهېـده، بلاخره یې خپله طرحه ده (سـیکو) پـه نـوم یـوه جاپانـي شرکت تـه ورکـړه. دا طرحـه ډیجیټل وه او نـن تقریباً ۸۰ سـلنه سـاعتونه پـه دې بڼـه تولیدېږي. دا په دې مانا ده چې یوه پرېکړه ستاسـې برخلیک بدلولی شي.
**دوام لري...**

# Every day is extra

◄ اکسوس کتابپلورنځی

(Every day is extra)یا هره ورځ غنیمت ده کتاب د امریکایي تبعه، پوځي، د ډیموکراټ ګوند غړي، والي، سناتور، د ولسمشرۍ کاندید، د بهرنیو چارو مخکښ وزیر جان کري د سیاسي خاطرو کتاب دی چې تازه په دې وروستیو کې په امریکا کې سیمون سچوسټر خپرندوی مرکز خپور کړی دی.
کتاب شل څپرکي او ٦۴۰ مخونه لري. په کتاب کې کري له ماشومتوب څخه بیا تر ننه چې کوم ماموریتونه ترسره کړي، هغه او خپلې سیاسي خاطرې یې پکې لیکلې دي. جان کري د ویتنام په جګړه کې یو سرتېری و او له هغه ماموریته په بریالیتوب راووت. له هغې وروسته یې د ماساچوست د والي په حیث دنده ترسره کړه او له هغې وروسته یې سنا مجلس ته لاره ومونده او بیا له جورج ډبلیو بوش سره یې د ولسمشرۍ لپاره سیالي وکړه؛ خو دا جمهوریپال یې مات نه کړ او له هغې وروسته په سنا مجلس کې د بهرنیو اړیکو د کمېټې مشر وټاکل شو او په بهرني سیاست کې یې د پام وړ لاسته راوړنې خپلې کړې. له هغې وروسته د بارک اوباما سره د بهرني سیاست په اعمال کې یې د یوه متفکر مغز نقش ولوباوه او د منځنۍ ختیځ د سولې په برخه کې یې د یوه ځانګړي بهرني سیاست پرمخ وړلو لاره خپله کړه. ویلی شو چې د امریکې د ملي ګټو لپاره یې له ټولو اړوندو هېوادونو او سازمانونو سره د بهرني سیاست په اعمال کې مهم ماموریت ترسره کړ. که څه هم د منځنۍ ختیځ امنیت ښه نه شو؛ خو دغه معادلې نوې او بېلې لارې پیدا کړې. نوموړی د سوریې د وضعیت په اړه وایي: «ډیپلوماسۍ سوریه ژوندۍ ساتلې، خو ټپونه یې لا نه دي پټې شوي».
د سوریې، عراق او لیبیا په اړه او هم د نورو مطرحو نفت لرونکو هېوادونو په اړه د امریکې سیاست او تګلارې په دې کتاب کې ښې درک کېدای شي.
د جان کري د دې سیاسي خاطرو په اهمیت او کیفیت د نړۍ مطرح رسنیو او د سیاسي چارو کارپوهانو خپل نظرونه ورکړي دي، لوستونکو ته یې د لوستلو سپارښتنه کړې، د سیاسي خاطرو د لیکلو سبک یې ستایلی او د امریکا د بهرني سیاست د یوه مجري له ادرسه یې د دې ډول خاطرو لیکل د امریکا له سیاستونو سره د اشنایۍ یوه مهمه او اسانه کتابي سرچینه بللې ده.
مینه وال کولای شي د دغه کتاب انګریزي بڼه چې تازه د کتاب بازار ته را رسېدلې په کابل کې له اکسوس او د ښار له نورو مشهورو کتابپلورنځیو ترلاسه کړي او په کندهار، مزار شریف، ننګرهار، خوست، پکتیا او هرات کې یې هم له مشهورو کتابپلورنځیو ترلاسه کولی شي.





## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Essential 4000 English Words 1+CD | | ۱۳۰ؑ |
| ۲ | Essential 4000 English Words2+CD | | ۱۳۰ؑ |
| ۳ | Essential 4000 English Words3+CD | paul nation | ۱۳۰ؑ |
| ٤ | Essential 4000 English Words4+CD | | ۱۳۰ؑ |
| ٥ | Essential 4000 English Words 5+CD | | ۱۳۰ؑ |
| ٦ | Essential 4000 English Words6+CD | | ۱۳۰ؑ |
| ۷ | لټون (د غنی کلیات او نوی کلام) | غنی خان | ۳۷۰ؑ |
| ۸ | You Can ACHIEVE more | Shiv khera | ۲۲۰ؑ |
| ۹ | CHE GUEVARA ABIOGRAPHY | RICHARD L.HARRIS | ۲۰۰ؑ |
| ۱۰ | ګټور نباتات | پوهنمل محمد حامد همدرد | ۱۲۰ؑ |
| ۱۱ | بیولوژی حجره | پوهنمل محمد حامد همدرد | ۳۰۰ؑ |
| ۱۲ | څنګه اغېز وکړو | جان سی مکسویل او جیم دورنان | ۱۲۰ؑ |
| ۱۳ | Every Day Is Extra | JOHN KERRY | ٤۲۰ؑ |
| ۱٤ | پیاده سازی منطق فازی در PLC | رضا ماهر | ٥۰۰ؑ |
| ۱٥ | اصول و مبانی عیب یابی شبکه های کامپیوتری | محمدنوروزی | ۳٦۰ؑ |
| ۱٦ | نړیوالې اړیکې | ډاکټر وهبه الزخیلی | ۱٥۰ؑ |
| ۱۷ | د حقوقو مبادی | پوهنوال نصرالله ستانکزی | ۲۰۰ؑ |
| ۱۸ | د ښکلی انسان په زړه پوري داستان | مولوي نورالحق انور | ٦۰ؑ |
| ۱۹ | فن خطابه و روش سخنرانی | غلام ربانی ادیب | ۱۳۰ؑ |
| ۲۰ | د معاصر تدریس لارښود | ایمل عظیمي | ۱٥۰ؑ |
| ۲۱ | بررسی خشونت از دیدگاه جامعه شناسی | رحمت الله غمی | ۱۳۰ؑ |
| ۲۲ | ارشادات نبوی (ص) | مایل آقا متقی | ۱٥۰ؑ |
| ۲۳ | اقتصاد کار و نیروی انسانی | دکتر حسن سبحانی | ۱٥۰ؑ |
| ۲٤ | تاریخ عقاید اقتصادی | دکتر فریدون تفضلی | ۲۰۰ؑ |
| ۲٥ | د نبوت او انبیاوو تاریخ | محمدعلي صابوني | ۲٥۰ؑ |
| ۲٦ | باطل پیران | علامه ابن الجوري | ۷۰ؑ |
| ۲۷ | د قیامت علامي | دوکتور یوسف بن عبدالله الوابل | ۱۷۰ؑ |
| ۲۸ | پښتانه د تاریخ په رڼا کې | میان بهادر شاه ظفرکاکا خیل | ٦۰۰ؑ |
| ۲۹ | د درملو لارښود | ډاکټر محمد مستنصر | ۲۸۰ؑ |
| ۳۰ | د اوبو کیمیاوی او ایکالوژیکي ارزښت | پوهیالی خدایداد کوچی | ۱۰۰ؑ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦ |
| € | ۸۷,۷۰ |
| Rp. | ۵۷۵ |
| ₹ | ۱۰۳۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۸ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 10:30 |
| کابل - کندهار | 16:00 |
| کابل - ارومچي | 09:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د کاروبار هغه ستراتیژي چې شتمن به مو کړي!

ژباړه: غازي عابد www.yaraan.com

لس مهمې خبرې يا ټکي شته چې په ښه او پراخه ډول سره ستاسې د کاروبار د بریالیتوب او یا ناکامۍ لامل کېدای شي. که په واقعیت او صداقت سره دا لس ټکي عملي کړی، ښه تصمیمونه به ونیولی شی او ښې لاسته راوړنې به هم ولری:

**۱- د پېرېدونکو ډېرول**

**د یوه کاروبار یا بېزنېس هدف څه شی دی؟**

ډېرې خلک فکر کوي چې د کاروبار هدف د ګټې لاسته راوړل دي، خو دا غلطه خبره ده. ځکه د کاروبار اصلي او مهم هدف دا دی چې ډېر پېرېدونکي پیدا، خپل او له ځانه سره وساتی.

همدا راز د یو کاروباري پنځوس سلنه وخت، کوښښونه او لګښتونه باید په دې متمرکز وي چې په یوه نه یوه لاره مشتریان یا پېرودونکي پیدا، ډېر او له ځانه سره یې وهم ساتي.

**۲- د پېرېدونکي رضایت**

د کاروبار د کامیابۍ یوه مهمه برخه د پېرودونکي رضایت او خوشحالي ده. تاسې باید د مشتریانو د رضا کولو دا ورټیا ولری چې هغوی د نورو پر ځای له تاسې سودا واخلي، بیا بیا یې وپېري، یعنې هر ځل تاسې ته راشي او دومره متاثره شي چې د خپل ځان ترڅنګ نور ملګري هم ستاسې خواته راولي چې همدا ستاسې د ډېرې ګټې او لویې بریا لامل کېږي.




**۳- ارزښت لوړول**

د پیاوړي او کامیاب کاروبار مهمه او کلیدي اړتیا دا ده چې له بېلابېلو لارو خپل ارزښت لوړ کړي. د شتمنۍ سرچینه د کیفیت په ښه والي او باارزښته کولو کې ده، ځکه هر کاروبار هغه وخت ګټه او پراختیا مومي چې کله ارزښتمن وي، یعنې هم یې کیفیت ښه وي او هم په ښه ډول سره کاروبار پرمخ وړي.

نو هره ورځ باید کوښښ وکړئ چې له بېلابېلو لارو مو کاروبار ارزښتمن کړی او د پېرودونکي تجربې ته مو نوي څه ور زیات کړئ.

**۴- تل په پېرودونکي پام لرل**

په کاروبار کې مهم شخص پېرودونکی دی، نو ځکه باید تل او هر وخت په مشتري ډېر پام او تمرکز وکړئ.

پېرودونکي بې ثباته، بې وفا، بدلېدونکي، بې صبره او د بېلابېلو تقاضاوو لرونکي وي، باید ورسره اړین تګ وشي او هېڅکله نا رضایته نه شي.

**۵- مرستندویه اوسېدل**

په ژوند، کار او بېزنېس کې د دې لپاره چې خوشحاله او بریالي و اوسی، نو باید له نورو سره مرسته وکړئ.

له نورو سره مرسته او همکاري ستاسې کمپنۍ، پېرودونکو او ټولنې ته یوه مهمه مرکزي اړتیا ده چې دا د دې لامل کېدای شي، څو ډېر خلک ستاسې خواته راجلب شي.

**٦- ځنګه؟**

ډېر مهم سوال چې تاسې یې د ستونزې د حل، په خنډونو کې د بریالي کېدو او یا د کاروبار د هدف د ترلاسه کولو لپاره پوښتی، هغه د (څنګه) پوښتنه ده. ښه خلک تل د (څنګه) پوښتنه کوي او بیا یې د ځواب لپاره لازم ګام پورته کوي، څو یې حللاره پیدا کړي. نو تاسې هم باید په هره برخه کې له ځانه سره ووایئ چې څنګه ګټه او څنګه تاوان او بیا ورته د حللارې په لټه کې شئ.

**۷- دوامداره پرمختګ**

په دې چټکه بدلېدونکې نړۍ او تېزو رقابتونو کې باید په شخصي ژوند او د کاروبار په هره برخه کې پرمختګونه دوامداره وساتئ.

د باسکټبال یو روزونکی پټ رایلي وایي: «که چېرې د ښه والي لور ته لاړ نه شی، نو د بدوالي پر لور به ورځی.»

یعني که موږ بې له پرمختګه پاتې شو یا ورته کار ونه کړو، دا د دې لامل کېږي چې د بدوالي په طرف لاړ شو.

**۸- پلورنه**

هغه څه چې ستاسې د بېزنېس زړه لړزوي، پلورنه یا خرڅول دي. ډن او براډستریټ دوو څېړونکو په زرګونو د هغو کمپنیو څېړنه کړې چې ماتې شوې دي. د ماتېدو د ډېرو نورو علتونو ترڅنګ یې یو هم دا و چې کمزوري یا کمه پلورنه یې درلوده. یعنې خرڅلاو یې ډېر نه و.

نو هغوی دې پایلې ته ورسېدل چې د یوه کاروبار کامیابي په لوړه کچه خرڅلاو کې ده.

**۹- وده او پراختیا**

هر کاروبار باید د ودې او پراختیا یو پلان ولري. د کاروبار پراختیا باید ستاسې د فعالیتونو اصلي هدف وي. تاسې باید په هر کال کې د ۱۰ سلنې، ۲۰ سلنې یا ۳۰ سلنې ودې او پراختیا هدف ولرئ.

داسې کمپنۍ شته چې په یوه کال کې یې تر ۵۰ سلنه او ان سل سلنه پرمختګ کړی او دا ممکن دی، کوم تصادف نه دی.

---

د ټاکنو خپلواک کمېسیون:

# د ټاکنو د روڼتیا لپاره مو ټول ممکنه تدابیر نیولي دي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې د ولسي جرګې ټاکنو ته ټول عملیاتي او تخنیکي پروګرامونه بشپړ شوي دي.


د ټاکنو د خپلواک کمېسیون رییس ګلاجان عبدالبدیع صیاد پرون له سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو او کورنیو او بهرنیو نظارت کوونکو سره د ټاکنو په ملي غونډه کې له خلکو غوښتنه وکړه چې له کمېسیون سره د ټاکنو د روڼتیا په برخه کې مرسته وکړي.

صیاد زیاته کړه: «د ټاکنو ټول عملیاتي، تخنیکي او عملي پروګرامونه بشپړ شوي، د راتلونکې شنبې په ورځ به د هېواد په ۳۳ ولایتونو کې د ولسي جرګې لپاره انتخابات ترسره کېږي، له هېوادوالو مو غوښتنه دا ده چې په ذوق او شوق سره په انتخاباتو کې برخه واخلي او د خپلې خوښې کاندید ته رایه ورکړي او د خپل پارلمان برخلیک په خپله وټاکي.» صیاد وایي چې د ولسي جرګې را روانې ټاکنې له پخوانیو هغو سره ځکه توپیر لري چې د رایې ورکوونکو نوملړ، د پېژندلو ځانګړي قلمونه او رنګونه او همدا شان د بایومېټریک سیستم دستګاوې پکې کارول کېږي.

نوموړی وایي، د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسي جرګې د ټاکنو د روڼتیا لپاره تر دې ډېر څه نه شي کولای.

صیاد له ټولو افغانانو وغوښتل چې په ټاکنو کې د فساد، تخلف او درغلیو نښې نښانې له لیدلو سره سم له مسوولو کسانو سره شریکې کړي.

د ولسي جرګې ټاکنې د راتلونکې شنبې په ورځ له غزني پرته په ټول افغانستان کې




کېږي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، د دې ټاکنو د څار لپاره نږدې درې لکو کورنیو او یو شمېر بهرنیو څارونکو ځانونه ثبت کړي دي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی دفتر یا یوناما په را روانو ټاکنو کې د کورنیو ناظرانو ونډه مهمه بللې ده.

په ورته وخت کې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وایي چې د ټاکنو په ورځ د شکایتونو د ثبت او د هغوی د خوندي ساتلو لپاره چمتووالی لري. د دغه کمېسیون د دارالانشاء رییس محمد علي ستیغ په پرونۍ غونډه کې وویل: «د لومړي ځل لپاره د ټاکنیزو شکایاتونو کمېسیون په ټاکنیزو مرکزونو کې استازي پر دندو ګومارلي، هر څوک چې د ټاکنو په ورځ د ټاکنو اړوند سرغړونې ویني، کولای شي خپل شکایت هلته ثبت کړي، ان شاءالله د شکایت کوونکي شکایت به خوندي وي.»

که څه هم د ولسي جرګې د راتلونکو ټاکنو پر وړاندې ناامنۍ تر ټولو ستر خنډ بلل کېږي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې امنیتي ځواکونو ورته د ټاکنو په ورځ د امنیت ډاډ ورکړی.

له فساد سره د مبارزې د ګڼو ادارو تر فعالیت وروسته؛

# دا ځل له فساد سره د مبارزې ځانګړې پنځه کسيز کمېسیون جوړېږي



د عدلیې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې د ځانګړي سکرتریت له اداري فساد سره د مبارزې ځانګړی کمېسیون جوړوي.

له اداري فساد سره د مبارزې د سکرتریت رییس یما ترابي وایي، نوی جوړېدونکی کمېسیون به له فساد سره په مبارزه کې ګټور تمام شي.

ترابي زیاتوي: «له فساد سره د مبارزې په قانون کې چې څه نوي دي، هغه د پنځه کسیز کمېسیون جوړول دي چې له فساد سره د مبارزې په اړه د تدابیرو د نیولو، همغږۍ او پلي کولو په برخه کې ورته زیات صلاحیتونه ورکړل شوي دي، دغه کمېسیون له فساد سره د مبارزې د ستراتېژۍ پلي کول څاري».

ویل کېږي چې له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون به درې نارینه او دوه ښځینه غړي ولري چې د غوراوي کمېټې له لوري د ټاکل کېدو لپاره ولسمشر ته ور معرفي کېږي.

له اداري فساد سره د مبارزې د ځانګړي سکرتریت رییس دا خبرې له اداري فساد سره د مبارزې د قانون په اړه د معلوماتو د ورکولو او د فساد په برخه کې د اطلاعاتو د شریکوونکو د ملاتړ په اړه یوې خبري ناستې ته وکړې.

ترابي وویل چې دغه قانون د ملګرو ملتونو له اداري فساد سره د مبارزې د میثاق او له اداري فساد سره د مبارزې د ملي ستراتېژۍ له ژمنو سره سم، د مبارزې د بنسټونو د پیاوړي کولو په موخه پراخېږي.

د ترابي په خبره، دغه قانون داسې تدوین شوی چې له اداري فساد سره د مبارزې د موازي ادارو د فعالیت مخه نیسي، فعالیتونه یې قانوني کوي او د یو خپلواک کمېسیون تر چتر لاندې یې راولي.

دا په داسې حال کې ده چې له اداري فساد سره د مبارزې د مشابه، موازي او بې اغېزې ادارو له فعالیتونه شکایت کېږي.

د ولسي جرګې غړي او مدني فعالان وایي، حکومت له اداري فساد سره په مبارزه کې پاتې راغلی دی.

حقوقپوهان هم وایي چې حکومت له اداري فساد سره په اغېزناکه توګه مبارزه نه کوي.

د پوهنتون استاد ودیر صافی وایي، په افغانستان د فساد یو سیستم رامنځته شوی چې له لوړپوړو چارواکو نیولې، تر ټیټ پوړو مامورینو پورې پکې ښکېل او یو له بل سره همغږي لري.

دی ټینګار کوي چې د فساد د له منځه وړلو لپاره اړتیا ده چې حکومت او په تېره عدلي او قضایي ارګانونه جدي شي او قانون پلی کړي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی،
جاوید کوتوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین،
حشمت نوري او جواد تیموري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۷ د تلې ۲۴مه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۱۶مه | دویم کال | ۲۶۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۲۰ | ۲٤ | ۱٤ | ۲٦ |
| ٤ | ۳ | ۸ | ٤ | ۱۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۸ | لمر ختل ۰٦:۰۰ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۳:۳۷ | ماښام ۰٥:۱۷ | ماخوستن ۰٦:٤۱

## نړۍ



# پامپیو د خاشقجي د قضیې په اړه له سعودي چارواکو سره خبرې کړې دي

۳

### رئیس‌جمهور:
# برای بیمه خبرنگاران باید اقدام شود




محمد اشرف غنی، رییس‌جمهور کشور بر پشتیبانی از خبرنگاران تأکید می‌ورزد و می‌گوید که باید برای بیمه خبرنگاران اقدام شود.

آقای غنی که دیروز در برنامه افتتاح صندوق حمایت از خبرنگاران سخن می‌زد، افزود: «حالا وقت این است که برای ایجاد بیمه خبرنگاران ما، اقدام صورت بگیرد.»

به باور رییس‌جمهور، بسیاری از خانواده‌های قربانیان رسانه‌ها با مشکلات مالی دست و پنجه نرم می‌کنند. وی افزود : «امید است توجه عمده صندوق، برای خانواده‌های شهدا باشد، اکثریت شهدای خانواده‌های رسانه‌ها در وضعیت بد مالی قرار دارند و ضرورت است که برای ایشان یک پیام واضح داده شود تا قربانی شهدای ایشان از یادمان نمی‌روند.»

رییس‌جمهور همچنان در باره چگونگی دسترسی به اطلاعات نیز سخن زد و عدم همکاری با خبرنگاران را خلاف قانون خواند: «سرکشی از قانون و عدم همکاری با محققین و ژورنالیست‌های تحقیقی خلاف قانون است.»

آقای غنی در بخش دیگر از سخنانش، در باره چگونگی گفت‌وگوهای صلح نیز سخن زد و گفت در باره صلح می‌شود به اجماع رسید اما در باره هزینه صلح باید گفت‌وگو شود: «روی صلح، باید ما به یک اجماع برسیم؛ اینکه صلح ضروری است، تمام ملت روی آن اجماع دارند، اما این که پروسه صلح چقدر قربانی می‌خواهد باید بحث شود.»

آقای غنی در حالی در باره صلح سخن می‌زند که اخیراً نماینده‌گان طالبان با زلمی خلیلزاد، نماینده ویژه امریکا برای صلح افغانستان در قطر دیدار کرد. که گفته می‌شود که در این دیدار در باره چگونگی دستیابی به صلح در افغانستان گفت وگو شده است.

# د ایراني پوځیانو د تښتولو مسوولیت جیش العدل ډلې پر غاړه واخیست



د جیش العدل په نوم سني وسله والې ډلې د ایراني پوځیانو د تښتولو پړه پر غاړه اخیستې ده.

جیش العدل وایي دا کار یې له سنیانو سره د ایران د حکومت د بد چلند په غچ کې کړی دی.

په تښتول شویو کسانو کې د ایران د اسلامي انقلاب سپاه پاسدران ځینې غړي هم شامل دي. دوی د سه شنبې په ورځ د پاکستان - ایران تر منځ په پوله کې تښتول شوي دي.

د ایران د سپاه پاسدران په یوې اعلامیې کې چې د ایران دولتي تلویزون هم خپره کړې، راغلي چې دا کسان د سیستان بلوچستان ولایت د میرجاوه په ښار کې تښتول شوي دي.

د «جیش العدل» په نامه د یوې سني ډلې ویاند ابراهیم عزیزي ویلي دي چې د دوی جنګیالیو د میرجاوه په سرحدي سیمه کې پر یوې پوستې برید کړی او ټول مهمات او وسلې یې هم له ځان سره وړي دي.

نوموړي په یو غږیز پیغام کې چې رویټرز اژانس ته یې استولی ویلي چې دا برید یې له سنیانو سره د ایران د حکومت د بد چلند له کبله کړی دی.

د ایران سیستان بلوچستان د دغه هېواد یو نا ارامه ولایت بلل کېږي او ایراني چارواکي یې د ناامنۍ ټوله پړه پر سني بیلتون غوښتونکو ور اچوي.

ایران ادعا کوي چې دا ډله په پاکستان کې پټنځایونه لري او خبرداری یې ورکړی که پاکستان یې پر ضد اقدام ونه کړي ایراني پوځیان به د پاکستان په خاوره کې ددغو اورپکو ځالې په نښه کړي.




Coordination of Afghani Relief
CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها

**اعلان داوطلبی**

مؤسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) به کمک مالی UNHCR تصمیم دارد که در ولسوالی‌های لکن و گربز ولایت خوست برای مهاجرین وزیرستان به تعداد 103 باب تشناب و مبرز اعمار نماید. انعده شرکت های ساختمانی که دارای تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را الی تاریخ (20/10/2018) از سایت ACBAR دریافت نموده و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (21/10/2018) به آدرس ذیل بسپارند.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af